مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لَوَنگی جبارخیل

۲۰۲۰/۰۹/۲۸

# ښکالو د قدمو

چې ښکالو دې را تر غوږ شي، دا جهان راته روښان شي
خو چې نه يې دا شين فصل، کروندې ببېرته خزان شي

په نه شتون کې دې هر څه راته ازغي شي او اورونه
داسې حال رابانډې راشي چې په مالګه ټپ سوزان شي

د هر چا مراد حاصل او پسرلي دي ورته هر څه
زه کوم چا ته يم په تمه، چې به کله راروان شي

زه ګيله له چا نه وکړم، له تندي او که له ځانه
هره خوا ته چې کړم مخه، را ترسترګو بيا خپګان شي

د يار مينه کې خواري او زحمت ګاله لونګينې
اميد شته دی چې تياره د هجر ببېرته څراغان شي

۲۰۲۰/۰۶/۱۹




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ